<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

**د اخند بهارت(لوی هند) پروژې په لمنځه وړلو سره، اسلامي خلافت تاسیس کړئ**

**د پاکستان پوځ د خلافت تر حاکمیت لاندې کولی شي د هند ترهګر پوځ په ګنډو کړي**



له هغې وروسته چې هندي ډارنو سرتېرو د ۲۰۱۸م د فبروري پر ۱۵مه د کشمیر په بوطال سیمه کې پولې ته څېرمه د مسلمانو ماشومانو د ښوونځي «ون» سرویس وویشت؛ پاکستاني ځواکونو د الله سبحانه وتعالی د رضا او د مومنانو د دعا د تر لاسه کولو لپاره سمدلاسه د هندي ځواکونو پر یوه امنیتي پوسته برید وکړ، پنځه تنه هندي سرتیري یې جهنم ته ولېږل او زیات شمېر یې ټپیان کړل. په حقیقت کې د پاکستان پوځ نه یوازې دا چې د هندي سرتېرو تکراري ظلم ته ځواب ورکولی شي، بلکې د هندي فوځ د ماتولو او په ټوله کې د هغوی د سیمه ییز تاوتریخوالي د پای ته رسولو توانایي هم لري. یوازې د دې خاورې حکام خنډ دي، چې زموږ ځواکونه یې له افغانستان سره په رسم شوو پولو کې د امریکایي اشغال د ساتلو لپاره ځای پرځای کړي دي؛ په داسې حال کې چې دوی په

اشغال شوي کشمیر کې جهاد پرېښی دی. همدارازد پاکستاني فوځ په تجهیزولو کې اوسنی محدودیت، د تېرو محدودیتونو د دوام لړۍ ده.

په حقیقت کې د پاکستاني فوځ پر وړاندې لوی خنډ امریکایي پلوه حکام دي، دغه حکام پاکستاني فوځ ته د هغه څه اجازه نه ورکوي چې د اقدام کولو توانایي ورکوي او ورته اړتیا ده. مشرف په لومړي ځل ادعا وکړه، چې په ۲۰۰۲م کې به په کشمیر کې د جهاد منع کول د کشمیر د مسلمانانو د ستونزو د حل لپاره د امریکا ملاتړ تضمین کړي. ورپسې یې ادعا وکړه چې په ۲۰۰۳م کې له هند سره اوربند په سیمه کې د امریکا شتون تضمینوي؛ په داسې حال کې چې پاکستان کولی شول په قبیله وي سیمو کې د امریکا پر جګړه تمرکز وکړي. ښکاره ده چې د امریکا ټول ضمانتونه یوازې مسلمانانو ته ضربه رسوي او د هند بدنیتیو ته یو نوی فرصت ورکوي. هند په حقیقت کې دغه مطلب درک کړی چې پاکستاني حکام امریکا پورې تړلي دي او د هغې له اجازې پرته هېڅ څه هم نه شي ترسره کولی، نو ځکه یې خپله دښمني او ظلم د دواړو ازاد کشمیر او اشغال شوي کشمیر د مسلمانانو پر وړاندې ډېر کړي، په داسې حال کې چې د هند لخوا څو ځله اوربند مات شوی، خو پر وړاندې یې امریکا هېڅ هم ونه کړل. پر دې سر بېره متحده ایالاتو د تروریزم پر وړاندې په جګړه کې د پاکستان له هڅو او قربانیو څخه، په ځانګړې توګه په افغانستان کې د هندي اطلاعاتي پېټنځایونو د رامنځته کولو په اړه مننه وکړه، چې هند په بلوچستان یا له په نورو سیمو کې د پاکستان پر وړاندې نوې جبهې پرانیزي.

که مسلمانان اوس داسې حکام ولري چې اسلام او مسلمانانو ته ژمن وي، د امریکا غوښتنو، ژمنو او ضمانتونو ته شا کړي او له دوی سره له هر ډول اړیکو ځان وساتي، له خپلې خوښې سره سمه فضا بدلولی شي؛ ځکه د اسلام تر چتر لاندې نظامي همغږي، مرسته، خبر رسونه (پټه او ښکاره)، په پر له پسې د غونډو جوړول او د اسلام او مسلمانانو له دښمنو ملتونو سره هر راز دیپلوماتیکې او

اقتصادي اړیکې نشي ټینګوی. اسلام له مسلمانانو څخه غواړي چې د مشرکو هندیانو د دولت د اشغال پر وړاندې په ګډه مبارزه وکړي او واک یې ختم کړي. لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً﴾

[نساء :۱٤۱]

*ژباړه: الله سبحانه وتعالی کفار پر مسلمانانو هېڅکله نه دي واکمن کړي.*

او بیا فرمایي:

﴿فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ﴾

[بقره :۱۹٤]

*ژباړه: او که هر چا پر تاسو تېری وکړ، تاسو هم ورباندې د دوی په څېر تېری وکړئ.*

او په بل ځای کې فرمایي:

﴿وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾

[بقره :۱۹۱]

*ژباړه: او دوی له هغه ځایه وباسئ، چې تاسو یې ترې ایستلي یئ.*

پرېږدئ چې امریکایي ځواکونه په غربي پولو کې زموږ د افغان مسلمانانو په لاس هلاک شي، چې مخکې هم د دوی لخوا پر ګونډو شوي وو؛ لکه څنګه چې په شرقي پوله کې د هندي مشرکو عسکرو پر وړاندې د بریا او شهادت لپاره د پاکستان مسلمان وسله وال ځواک مبارزه کوي. پرېږدئ، هر څوک چې توان لري د پاکستان له مسلمان وسله وال ځواک سره یو ځای شي، دوی وروزي او له فرمان سره سم یې جګړې ته واستوي. مسلمانانو ته اجازه ورکړئ چې د اشغالي کشمیر د ازادولو او له پاکستان سره یې د تړلو لپاره هر اړخیز مالي او اطلاعاتي ملاتړي شي. زموږ پر هستوي شتمنۍ کار کولو ته اجازه ورکړئ، چې هند یې له وېرې د دفاع د اقدام فکر ونه کړي او لاس او پښې یې

فلج شي. اجازه ورکړئ، چې يو ځل بيا د هند په ټوله وچه کې د اسلامي ژوند بيا راتګ او د هغه نفوذ د پخواني واک په څېر چې پېړۍ پېړۍ يې دوام وکړ، د هندي دولت د اشغال ريښې له بېخه وباسي. په پای کې مسلمانانو ته اجازه ورکړئ چې د نبوت پر منهج اسلامي خلافت تاسيس کړي، ځکه د هغه په تاسيس سره دا هر څه امکان لري.

**د حزب التحرير ـ ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: PR۱۸۰۱۱**

**۱۴۳۹هـ.ق، د جمادي الاول ۳۰مه**

**۲۰۱۸م د فبروري ۱٦مه**